مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۳/۰۵

# سودا

واخلئ سودا واخلئ
واخلئ هنر واخلئ
زما د هیلو هنر
د هغې مینې ادب
چې رژیدلی ده اوس
واخلئ شعرونه واخلئ
سوي نثرونه واخلئ
هغه لیکونه واخلئ
چې څه وده یې تاسي
زما خبرو سره
اشنایان کړي وئ
له خنداګانو سره هم
څه نا څه مخ شوئ
خو اوس د دغو تورو
مالګه له ما هم ورکه
په سخت غربت کې ګیر یم
تیار یم وپلورمه
د خپل ژوندون خواري
زما د واړه جهان
لوی لوی لفظونه، توري...
هغه چې ما په مینه
ستاسو له پاره لیکل
واخلئ سودا واخلئ
زما د هنر سودا....
...

یادونه: د کرونا په لومړی څپه کې یوې نجلی را نه ناول اخیسته، خو په دې شرط چې خپل نوم باندې یې نشر کړي. ښې ډیرې پیسې پرې راکولې، مګر له وړې خیټې سره، سره مې دا سودا ونکړه.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ